مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیرمحمد کاروان

۲۰۲۳/۰۹/۱۷

# غــزل

درومي خو څرګنده نه ده، کومه لار به ونیسي
دا سر به پهٔ دار شي که د لېچو هار به ونیسي

خدای به یې بیا پاکه کړي د سپین سهار پهٔ سپین دسمال
هو منم د لمر ښېښنه د شپې غبار به ونیسي

بین د مستې مینې به راواخلي د مولا پهٔ نوم
لار به ترې ولجه کړي بې اُدې ښامار به ونیسي

زړهٔ لري بې زړهٔ نه دی یو څوک خو به پرې ونمانځي
ګوره یې پهٔ نن سبا کې ښکلی یار به ونیسي

بیا به مرغلرې د فرغون لهٔ ړیرې وشکوي
وخت لاس د ماشوم موسی دی سور انګار به ونیسي

رابهٔ شي پهٔ ښنو به یې بیا پریوزي چې پخلا یې کړي
سپیني اوبهٔ ښې د مرور چنار به ونیسي

راغی د دردونو لهٔ کاروان سره د بره نه
خدای ته مې اُمید دی، د سندرو ښار به ونیسي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ